د افغانستان اسلامي امارت
د عدليې وزارت

رسمي جريده

جريدهٔ رسمی

د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله
فرمانونه، حکمونه او لارښـــوونې

فـــرامـــين، احکام و هدايات
عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله

دخپرېدونېټه:د ۱۴۴۴ هـــ.ق کال د ذوالقعدة الحرام دمياشتې (۲)
د ۱۴۰۲ هـــ.ش کال د غبرګولي د مياشـــتې (۱)
پرله پسې نمبر (۱۴۳۲)

تاريخ نشر: (۲) ذوالقعدة الحرام سال ۱۴۴۴ هـــ.ق
(۱) جوزا سال ۱۴۰۲ هـــ.ش
نمبر مسلسل (۱۴۳۲)

د امتیاز خاوند: د عدلیې وزارت

مسؤول چلوونکی: مولوي محمد افضل(احمد)

۰۷۷۳۲۶۲۰۲۸

مرستیال: مولوي عبدالحق (صدیقي)

۰۷۶۷۶۸۰۴۶۱

مهتمم: محمد جان: ۰۷۴۷۶۲۷۹۳۰

وېب سایټ: www.moj.gov.af

قیمت این شماره (به طور پرچون): (٦٠) افغانی

تیراژ چاپ: (۳۰۰۰) جلد

تعداد صفحات بشمول پشتی: (۱۴۴) صفحه

مطبعه چاپ کننده: (بهیر)

آدرس: وزارت عدلیه، ریاست نشرات و ارتباط عامه، ناحیه ششم – غرب قصر دارالامان.

په دې ګڼه کې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د ۱۴۳۷-۱۴۳۸-۱۴۴۰-۱۴۴۱-۱۴۴۲-۱۴۴۳ او ۱۴۴۴هـ.ق کلونو فرمانونه، حکمونه او لاربښوونې چاپ شوي دي:

۱- د جنګي اسیرانو په اړه حکم.....۵

۲- د محاکمو عالي اداري ته لاربښونه.....۸

۳- د اسلامي امارت ټولو مجاهدینو ته لاربښونه.....۹

۴- د اسلامي امارت ټولو مجاهدینو ته لاربښونه.....۱۰

۵- د امر بالمعروف او نهي عن المنکر له اداري سره د همکاري په هکله فرمان..۱۱

۶- د د ستوري اشخاصو د مخنیوي په هکله فرمان.....۱۳

۷- د دولتي ځمکو په هکله فرمان.....۱۴

۸- په مطبوعاتو، مخابرو او لیکنو کې د سپکو سپورو د نه ویلو په هکله فرمان....۱۵

۹- د رسمي مهرونود استعمال په هکله فرمان.....۱۶

۱۰- له درې ګونو محکمو وروسته د حدودو او قصاص په تطبیق کې د مشرتابه د اجازې د اخیستلو په هکله فرمان.....۱۷

۱۱- د شخصي ځمکو د غیر قانوني تصرف او غصب د مخنیوي په هکله فرمان..۱۸

۱۲- د دفتري لوازماتو او امارتي وسایلو په اړه حکم.....۲۰

۱۳- تر اوږو د اوږدو څنو د اصلاح په اړه هدایات ۲۲

۱۴- د کشف الحال لپاره د متهمینو د بندي کولو د صلاحیت او بند د مودې په هکله فرمان.....۲۶

۱۵- له بندیانو سره د ښه سلوک کولو په هکله فرمان.....۲۸

۱۶- د فرامینو،احکامو او محرمو اسنادو د نه خپرولو او ساتنې په هکله حکم.....۳۰

۱۷- د مفقودینو د موضوع په هکله فرمان.....۳۲

۱۸- د امارتي ادارو او کمیسیونونو له خوا د کتابونو د چاپ په هکله حکم.....۳۴

۱۹- د عمومي محاذونو د لغو کېدلو په هکله فرمان.....۳۵

۲۰- د محاکمو له فیصلې پرته د سزا ورکولو او بیا یې د عکاسي کولو د مخنیوي په هکله حکم.....۳۷
۲۱- د امارتي ځمکو د غصب د مخنیوي په هکله فرمان.....۴۰
۲۲- د مشرتابه مقام له اجازې پرته په ملکیت د ځمکو د نه ورکړې په هکله فرمان.....۴۲
۲۳- د نظامي محکمو د چارو د حدودو د ټاکلو په هکله فرمان.....۴۴
۲۴- د بنځو د حقونو په هکله فرمان.....۴۶
۲۵- د ریاست الوزراء د معاونیتونو پورې اړوند د وزارتونو او ادارو دکاري استقامت پر بنسټ د هغوی د تفکیک په هکله فرمان.....۵۰
۲۶- د دیني مدرسو د فارغانو او علماوو د ارزول شویو تحصیلي سندونو ته د اعتبار ورکولو په هکله فرمان.....۵۳
۲۷- د اسلامي امارت ټولو مجاهدینو ته فرمان.....۵۴
۲۸- د کشف الحال لپاره د متهمینو د بندي کولو د صلاحیت او بند د مودې په هکله فرمان.....۵۸
۲۹- په امارتي ادارو کې د خپلوانو د نه ټاکلو په هکله فرمان.....۶۰
۳۰- په هېواد کې د کوکنارو د کښت د ممنوعیت په هکله فرمان.....۶۲
۳۱- د اسلامي امارت پر کارکوونکو او مسوولینو د بې ځایه تورونو او د هغوی د بې قدرۍ کولو د مخنیوي په هکله فرمان.....۶۴
۳۲- دکابل ښار دفقیرانو د راټولولو او مساعدت په هکله حکم.....۶۸
۳۳- د تبدیل شویو مسوولینو له خوا نویو مسوولینو ته د اجناسو او عراده جاتو د تسلیمولو په هکله حکم.....۶۹
۳۴- د اړتیا په صورت کې د استفتاء کولو په هکله حکم.....۷۱
۳۵- د تخصص فی الفقه والافتاء د عالي تحصیلاتو پورې د مربوطولو په هکله حکم.....۷۲

۳۶- د رؤیت هلال د هیئتونو د ټاکنې په هکله حکم.....۷۳
۳۷- د اراضي ریاست د انتقال په هکله حکم.....۷۴
۳۸- د شرعي حجاب اړوند د توضیحي او تطبیقي طرحې د منظـوری پـه هکلـه حکم.....۷۵
۳۹- د دوه ځایه معاش نه اخیستلو په هکله حکم.....۷۷
۴۰- د مالي چارو د تنظیم په هکله حکم.....۷۸
۴۱- په شفاف ډول د عوایدو د راټولولو په هکله حکم.....۷۹
۴۲- د غیر فعالو عایداتي منابعو د فعالېدو په هکله حکم ۸۰
۴۳- د مسلحو قواوو د معاشونو د توحید په هکله حکم.....۸۱
۴۴- په امنیتي ارګانونو کې د مجاهدینو د ثبت او تعییناتو په هکله حکم.....۸۲
۴۵- د ۱۴۴۲ هـ.ق کال د ۱۱۵ ج ٦ ګڼه د هدایاتو د ځار او تعقیب پـه هکلـه حکم.....۸۴
۴٦- د نظامي محکمو د اجرائیه قواوو د قوماندانۍ د تشکیل په هکله حکم.....۸۵
۴۷- د سترې محکمې په تشکیل کې د نظامي محکمو د شامل والـي پـه هکلـه حکم.....۸۸
۴۸- په یوه وخت کې د دوه ځایه دندې نه ترسره کولو په هکله حکم.....۹۰
۴۹- د صفونو د تصفیې د دریو ادارو د نماینده ګانو په هکله لارښوونه.....۹۱
۵۰- د دارالوکالو د طرزالعمل د جوړېدو په هکله لارښوونه.....۹۳
۵۱- د سترې محکمې د اونیزې شورى په هکله لارښوونه ۹۴
۵۲- د لوړو زده کړو وزارت د لومړي او دوه یم سمسـتر د نصـاب پـه هکلـه لارښوونې.....۹٦
۵۳- د تقنیني سندونو د پراوونو تېرولو د څرنګوالي په هکله فرمان ۱۰۰
۵۴- د امنیتي او تصفیوي کمېسیون د جوړېدو، دندو او واکونو په هکله فرمان.۱۰۵
۵۵- په هېواد کې د بنګو د کښت د ممنوعیت په هکله فرمان.....۱۱٦

۵۶- وزارتونو او امارتي ادارو د تدارکاتو او نورو قراردادونو د رونټيا په هکله فرمان.....۱۱۸
۵۷- د امارتي ځمکو د وېش، پلورني او انتقال د ممنوعيت په هکله فرمان.....۱۲۰
۵۸- د ملي تدارکاتو کمېسيون د منظورۍ په هکله حکم.....۱۲۲
۵۹- په تدارکاتي چارو کې وزارتونو او بودجوي ادارو ته د پولي واکونو د تفويض په هکله حکم ۱۲۴
۶۰- د عدليې وزارت څخه سترې محکمې ته د حقوقو رياست د انتقال په هکله حکم.....۱۲۷
۶۱- د اداري فساد له درنو جرمونو سره د مبارزې اړوند رياستونو، مديريتونو او عدلي او قضايي مرکزونو د منحل کولو په هکله حکم.....۱۲۸
۶۲- د ښاروالیو لوی رياست د انحلال په هکله حکم.....۱۳۱
۶۳- د ملي دفاع وزارت د عسکري(نظامي)محکمو د انحلال په هکله حکم....۱۳۴
۶۴- په محکمو کې د دوسيو د څېړلو په هکله حکم.....۱۳۶
۶۵- له نشو څخه د مخنيوي او د روږدو کسانو د تداوي په هکله حکم.....۱۳۹

بسم الله الرحمن الرحيم

د جنګي اسيرانو په اړه

د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله

حکم

ګڼه: (۸۵/ج۱)

نېټه: ۱۴۳۷/۹/۲۰هـ.ق

د اسلامي امارت ټولو محترمو مجاهدينو ته!

السلام عليکم و رحمة الله و برکاته!

څرنګه چې تاسو پوهيږئ چې زمـــوږ او ستاسو جهادي مبارزه د الله تعـالى د رضاء د حاصلولو او د اعلاء کلمة الله لپاره ده، نو را باندې لازمـه ده چـې په دې لاره کـې د شريعـت د حکم او د امير له اطاعت څخه ســر غړونـه ونه کړو.

په دې وروستيو کې د هېواد په ځينـو برخو کې د جنګي اسيرانو د نيولـو او بيا په خودسرانه ډول د هغوی د تعزيـر او نامناسب مجازات حتی وژلو پېښـې رامنځته شوي، په داسې حال کې چې د اسلامي امارت د محـاکمو عمـومي

بسم الله الرحمن الرحيم

حکم

عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله

در مورد اسيران جنگی

شماره: (۸۵/ج۱)

تاريخ: ۱۴۳۷/۹/۲۰هـ.ق

به تمام مجاهـدين محتـرم امـارت اسلامی!

السلام عليکم و رحمة الله و برکاته!

چنانچه شما می‌دانيـد کـه مبـارزهٔ جهادی ما و شما برای حاصل نمـودن رضای الله تعالی و اعـلای کلمـة الله مـی‌باشـد، پـس بـر مـا لازم اسـت کـه در ايـن راه از حکـم شـريعت و اطاعـت اميـر تخلـف نورزيم.

در اين اواخر در برخـی از سـاحات کشور، حوادث دسـتگيری اسـيران جنگـی و بعـداً تعزيـر خودسـرانه و مجازات نامناسب، حتی کشتن آن‌ها به وقوع پيوسته است. در حـالی‌کـه رياست عمومی محاکم امارت اسلامی

ریاست یا مشرتابه په جریان کې شوي نه وو.

دا ډول عمل هم د شریعت او هم د اسلامي امارت د لایحې خلاف عمل دی. ځکه چې په شریعت کې دا حکم دی چې مجرم که څه هم تر نیولو وړاندې غټ مجرم وي، خو تر اسیر کېدلو وروسته یې حکم بدلېږي. د سزاء او جزاء ټولې چارې یې امیر یا د هغه نایب ته مفوض کېږي، له دې پرته څوک حق نلري چې هغه مجازات یا معاف کړي.

په دې اړه د امارت په لایحه کې ښکاره مادې موجودې دي: (د لایحې دوه یمه برخه د بندیانو باب له ۹ څخه نیولې تر ۱۶ مادې پورې په دې اړه ښه تفصیل موجود دی...) همدارنګه د وژلو د صحنې عکاسي کول هم په عمومي لایحه کې منع شوي په دې اړه د لایحې ۲۱ ماده داسې حکم کوي: ۲۱ ماده: که کوم مجرم شرعاً د قتل مستحق وي او د وژلو حکم یې وشي هغه که جاسوس وي، که بل مجرم، د ټوپک په

یا رهبری در جریان گذاشته نشده بود.

این چنین عمل، هم عمل خلاف شریعت و هم خلاف لایحهٔ امارت اسلامی می‌باشد؛ زیرا در شریعت این حکم است که اگر مجرم قبل از گرفتاری مجرم کلان هم باشد، بعد از اسیر شدن حکم وی تغییر می‌کند. تمام امور سزا و جزای وی به امیر یا نائب وی مفوض می‌گردد، به غیر از این هیچ کسی حق ندارد که وی را مجازات یا معاف نماید.

در این مورد در لایحهٔ امارت ماده‌های واضح موجود است: (بخش دوم لایحه، باب اسراء، از مادهٔ ۹ الی مادهٔ ۱۶ در این مورد تفصیل موجود است...) همچنان عکس گرفتن از صحنهٔ کشتن نیز در لایحهٔ عمومی منع شده است. در این مورد مادهٔ ۲۱ لایحه چنین حکم می‌کند: مادهٔ ۲۱: اگر کدام مجرم شرعاً مستحق قتل باشد و حکم به کشتن وی شود، وی اگر جاسوس باشد یا کدام

وسيله دې ووژل شي او عکاسي کـــول يې ممنوع دي.

نو پس له دې ټولـــو مجاهـــدينو تـــه لارښوونه کېږي چې په آينده کې بايد دا ډول چارې تکرار نه شي، چې دا زمونږ او ستاسو د جهادي تګـــلارې خـــلاف عمل او د امير بې اطاعتي ده. مجاهدين بايد په جدي توګه ورته متوجه واوسي.

والسلام

اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث

مولوي هبة الله اخندزاده

مجرم ديگر، به وسيلۀ تفنگ کشته شود و عکاسی از آن ممنوع می‌باشد.

بناءً به تمام مجاهـــدين هـــدايت داده می‌شود که بعد از اين در آينده چنـــين اعمال بايد تکرار نشود، که اين عمـــل خلاف خطمشی جهادی ما و شـــما و نافرمانی از امير می‌باشد، مجاهدين بايد به‌طور جدی متوجه آن باشند.

والسلام

اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث

مولوی هبة الله اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحيم

ګڼه: (۸۲/ج۱)

نېټه: ۲۵/ ۸/ ۱۴۳۷هـ.ق

د محاکمو عالي اداري ته!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

و بعد: د قضاء په هکله کوم اصول، فرامین او لوایح چې د عالیقدر امیرالمؤمنین شهید سعید ملا اختر محمد (منصور) رحمه الله تعالی په امارت کې نافذالعمل او منظور شوي وو، هغه اصول، فرامین او لوایح زما له خوا هم منظور او نافذالعمل دي، له نن تاریخ څخه د هېواد ټول قاضیان او مسوولین یې په عملي کولو مکلف دي.

والسلام

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث

مولوي هبة الله اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحیم

شماره: (۸۲/ج۱)

تاریخ: ۲۵/ ۸/ ۱۴۳۷هـ.ق

به ادارۀ عالی محاکم!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

و بعد: اصول، فرامین و لوایحی که در مورد قضاء در امارت عالیقدر امیرالمؤمنین شهید سعید ملا اختر محمد (منصور) رحمه الله تعالی نافذ العمل و منظور شده بود، آن اصول، فرامین و لوایح از طرف ما نیز منظور و نافذ العمل می‌باشد. از تاریخ امروز تمام قضات و مسؤولین کشور به عملی نمودن آن مکلف اند.

والسلام

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث

مولوی هبة الله اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحيم

ګڼه: (۸٦/ج۱)

نېټه: ۵/شوال/۱۴۳۷هـ.ق

د اسلامي امارت ټولو مجاهدينو تـه!

السلام عليكم و رحمة الله و بركاته!

و بعد: کوم چاته چې د اسلامي امارت د مجاهدينو له خوا د شـرعي اصـولو مطابق امن ورکول کېږي او هغه د دې امن د ثبوت سند هم ولري، خو له دې سره سره بيا هم څوک تکليف ورکوي او يا يې وژني، دغه کار په اسلام کـې غدر بلل کېږي او دا ډېره لويه ګناه ده. تاسو له دې وروسته له ورته عمل څخه په کلکه ډډه وکړئ او ځـان ځينـې وساتئ او که هرچا دغه عمل تکرار کړ له هغه سره د شريعت مطابق محکمـه کېږي او کومه جزا چې پـه شـريعت مقـدس کـې وه، هغـه بـه پـرې تطبيق کېږي.

والسلام

اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث

مولوي هبة الله اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحيم

شماره: (۸٦/ج۱)

تاريخ: ۵/شوال/۱۴۳۷هـ.ق

به تمام مجاهدين امـارت اسـلامی!

السلام عليكم و رحمة الله و بركاته!

و بعد: به کسی که از طرف مجاهدين امارت اسلامی مطابق اصول شرعی امن داده می‌شود و وی سند ثبوت اين امن را نيز داشته باشد، مگر با وجود ايـن، باز هم کسی به وی تکليف می‌دهد يـا وی را به قتل می‌رساند، اين عمـل در اسلام غدر شمرده می‌شود و گناه بسيار بزرگ است. شما بعد از اين، از چنين کار مشابه جداً اجتناب نموده و خود را از آن نگهداريد و اگر شخصـی ايـن عمل را تکرار نمايد، مطابق شـريعت با وی محکمه خواهد شـد و کـدام جزايی که در شريعت مقدس باشـد آن بر وی تطبيق خواهد گرديد.

والسلام

اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث

مولوی هبة الله اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحيم

ګڼه: (۸۷/ج۱)

نېټه: ۵/شوال/۱۴۳۷هـ.ق

د اسلامي امارت ټولو مجاهدينو ته!

السلام عليكم و رحمة الله و بركاته!

و بعد: په ځينو ځايونو کې چې ځوک له فاسدې ادارې څخه راووځي نو مجاهدين د اسلحې شرط پرې لګوي او ورته وايي چې: خلع سلاح به نه راوځي که نه نو ته په امن کې نه يې.

وروڼو! دا مسئله مورږ پر علماوو عرض کړه، علماؤ وويل چې د دې شرط اصل په شريعت مقدس کې نشته؛ لهذا له دې وروسته که هر ځوک د دې فاسدې ادارې څخه راووځي که اسلحه ورسره وي يا نه وي مخنيوی يې مه کوئ امن ورکړئ ترڅو د شريعت مقدس خلاف ورزي و نه شي.

والسلام

اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث

مولوي هبة الله اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحيم

شماره: (۸۷/ج۱)

تاريخ: ۵/شوال/۱۴۳۷هـ.ق

به تمام مجاهدين امارت اسلامی!

السلام عليكم و رحمة الله و بركاته!

و بعد: در بعضی جاها کسی که از ادارۀ فاسد خارج گردد؛ مجاهدين شرط اسلحه را بر وی می‌گذارند و به وی می‌گويند: بدون سلاح خارج نشويد، در غير آن شما در امن نيستيد.

برادران! اين مسأله را ما به علماءعرض نموديم، ايشان گفتند که اصل اين شرط در شريعت مقدس موجود نيست؛ فلهذا پس از اين اگر هرکس از اين ادارۀ فاسد خارج گردد، اگر اسلحه داشته باشد يا نداشته باشد، مانع وی نشويد امن برايش بدهيد تا از شريعت مقدس خلاف ورزی نگردد.

والسلام

اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث

مولوی هبة الله اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحيم

د امر بالمعروف او نهي عن المنكر له اداري سره د همكارۍ په هكله د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله فرمان

ګڼه: (۳۳/ج۲)

نېټه: ۱۴۳۸/۷/۸هـ.ق

نظامي کمېسيون، د ولايتونو مسوولينو او د امارت ټولو ادارو ته!

السلام عليكم و رحمة الله و بركاته!

دا چې د مقدس جهاد هدف اعلاء كلمة الله دی تر څو د الله جل جلاله پر ځمكه الهی دين نافذ شي، مورِ د دعوت، ارشاد، جلب او جذب كمېسيون ته وظيفه ورکړې ده چې د دعوت، ارشاد، جلب او جذب كمېسيون په چوکاټ کې د امر بالمعروف او نهی عن المنكر کار شروع کړي، د اجراآتو لپاره يې طرزالعمل ورته جوړکړی دی او په کار شروع کوي، نو لهذا تاسې ته هدايت درکول کېږي چې هرقسم همکاري

بسم الله الرحمن الرحيم

فرمان

عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله در مورد همكاری با ادارۀ امر بالمعروف و نهی عن المنكر

شماره: (۳۳/ج۲)

تاريخ: ۱۴۳۸/۷/۸هـ.ق

به كميسيون نظامی، مسؤولين ولايات و تمام ادارات امارت!

السلام عليكم و رحمة الله و بركاته!

از اينكه هدف جهاد مقدس اعلای كلمة الله می‌باشد تا در زمين الله جل جلاله دين الهی نافذ شود، ما به كميسيون دعوت، ارشاد، جلب و جذب وظيفه سپرده ايم كه در چارچوب كميسيون دعوت، ارشاد، جلب و جذب، كار امر بالمعروف و نهی عن المنكر را آغاز نمايد، برای اجراآت آن طرزالعمل ترتيب نموده است و به كار آغاز می‌نمايد. فلهذا به شما هدايت داده می‌شود كه با آن هر نوع همكاری نمائيد تا

ورسره وکړئ تر څو دا ګډه هـــدف او مرام په ښه طريقه سره ترلاسه شي.

والسلام

اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث

مولوي هبة الله اخندزاده

این هدف و مرام مشترک بـــه طریقـــهٔ درست بدست آید.

والسلام

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث

مولوی هبة الله اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحيم

د دستوري اشخاصو د

مخنيوي په هکله

د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله

فرمان

ګڼه: (۴۳/ج ۲)

نېټه: ۱۴۳۸/۸/۱۰ هـ.ق

د اسلامي امارت ټولو مسوولينو ورونو ته!

السلام عليكم و رحمة الله و بركاته!

داسې اشخاص چې د طالب په نامه غواړي امارت بدنام کړي، بې ځايه شدت او نامشروع اجراآت ترسره کړي، ټولو مسوولينو ته جدي هدايت ورکول کېږي چې داسې اشخاص تعقيب کړي، که دستوري وي ډېر ژر يې له پاک صف څخه لېرې کړي په شرعي جزاء يې د محکمې د حکم مطابق ورسوي.

والسلام

اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث

مولوي هبة الله اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحيم

فرمان

عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله

در مورد جلوگيری از اشخاص دستوری

شماره: (۴۳/ج ۲)

تاريخ: ۱۴۳۸/۸/۱۰ هـ.ق

به تمام برادران مسؤول امارت اسلامی!

السلام عليكم و رحمة الله و بركاته!

به تمام مسؤولين هدايت جدی داده می‌شود، اشخاصی که می‌خواهند به‌نام طالب، امارت را بدنام نمايند، شدت بی‌جا و اجراآت نامشروع انجام دهند تعقيب کنيد، اگر دستوری باشند هر چه زودتر آن‌ها را از صف مقدس دور نمائيد و طبق حکم محکمه به جزای شرعی برسانيد.

والسلام

اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث

مولوی هبة الله اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحيم

د دولتي ځمکو په هکله

د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله

فرمان

ګڼه: (۴۵/ج۲)

نېټه: ۱۴۳۸/۸/۱۰هـ.ق

هغه دولتي ځمکې چې بې له کوم قانوني او واقعي سنده خلکو تصرف کړې وي، هغه په عامه اجاره ورکول کېږي، د پورته فرمان مطابق دې مسووله اداره اجراآت وکړي.

والسلام

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث

مولوي هبة الله اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحیم

فرمان

عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله

در مورد زمین‌های دولتی

شماره: (۴۵/ج۲)

تاریخ: ۱۴۳۸/۸/۱۰هـ.ق

زمین‌های دولتی که مردم آن را بدون سند قانونی و واقعی تصرف کرده باشد، به اجارۀ عام داده می‌شود. ادارۀ مسؤول مطابق فرمان فوق اجراآت نماید.

والسلام

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث

مولوی هبة الله اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحيم

په مطبوعاتو، مخابرو او ليکنو کې د سپکو سپورو د نه ويلو په هکله د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله فرمان

ګڼه: (۴۶/ج۲)

نېټه: ۱۴۳۸/۸/۱۰هـ.ق

مجاهدين به په مطبوعاتو او مخابرو او نورو ليکنو او محاوراتو کې دښمن ته ښکنځل او سپکې سپورې نه وايي چې دښمن د مجاهدينو سپکاوي ته بهانه جوړه کړي او دا مناسب عمل هم نه دی بايد اجتناب ورڅخه وشي.

والسلام

اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث

مولوي هبة الله اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحيم

فرمان

عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله

در مورد بد و رد نگفتن در مطبوعات، مخابرات و نوشته‌ها

شماره: (۴۶/ج۲)

تاريخ: ۱۴۳۸/۸/۱۰هـ.ق

مجاهدين در مطبوعات و مخابرات و ساير نوشته‌ها و محاوره‌ها به دشمن بد و رد نگفته و دشنام ندهند که دشمن برای سبک کردن مجاهدين بهانه سازی کند و اين عمل مناسب هم نيست، بايد از آن اجتناب گردد.

والسلام

اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث

مولوی هبة الله اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحيم

د رسمي مهرونو د

استعمال په هکله

د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله

فرمان

ګڼه: (۴۷/ج۲)

نېټه: ۱۴۳۸/۸/۱۰هـ.ق

داسې ټاپې (مهرونه) بايد استعمال نه شي چې د شخص نوم په کې ليکل شوی وي، د اسلامي امارت نوم او معين ځای/ اداره بايد په کې درج وي، له دې وروسته هره اداره، ډلګی، ولسوال او ټول مسوولين په دې سره مکلف دي چې پورته هدايت عملي کړي.

والسلام

اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث

مولوي هبة الله اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحيم

فرمان

عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله

در مورد استعمال

مهرهای رسمی

شماره: (۴۷/ج۲)

تاريخ: ۱۴۳۸/۸/۱۰هـ.ق

تاپه هايی (مهرها) که نام شخص در آن تحرير شده باشد، نبايد استعمال گردد. نام امارت اسلامی و جای معين/ اداره بايد در آن درج باشد. بعد از اين هر اداره، دلگی، ولسوال و تمام مسؤولين مکلف اند که هدايت فوق را عملی نمايند.

والسلام

اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث

مولوی هبة الله اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحيم

له درې ګونو محکمو وروسته

د حدودو او قصاص په تطبيق

کې د مشرتابه د اجازې

د اخيستلو په هکله د

عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله

فرمان

ګڼه: (۴۹/ج۲)

نېټه: ۱۴۳۸/۸/۱۰هـ.ق

۱- د قصاص، حدودو او اعدامونو په تنفيذ کې به علاوه پر درې ګونو محکمو د مشرتابه اجازه هم اخيستل کېږي.

۲- د قصاص، حدودو، اعدامونو او د دښمن د عسکرو د وهلو او ټکولو ويډيوګانې او عکاسۍ بندې دي، نه به اخيستل کېږي او نه به خپرېږي؛ ځکه دا کار په شريعت کې هېڅ اصل نه لري.

والسلام

اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث

مولوي هبة الله اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحيم

فرمان

عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله

در مورد اخذ اجازۀ رهبری

در تطبيق حدود و

قصاص بعد از محاکم

سه گانه

شماره: (۴۹/ج۲)

تاريخ: ۱۴۳۸/۸/۱۰هـ.ق

۱- در تنفيذ قصاص، حدود و اعدامها علاوه بر محاکم سه گانه، اجازۀ رهبری نيز اخذ می‌گردد.

۲- فلم و عکاسی از قصاص، حدود، اعدامها و لت و کوب عساکر دشمن منع است، نه گرفته شود و نه نشر گردد؛ زيرا اين امر در شريعت هيچ اصل ندارد.

والسلام

اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث

مولوی هبة الله اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحيم

د شخصي ځمکو د غير قانوني تصرف او غصب د مخنيوي په هکله د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله فرمان

ګڼه: (۴۴/ج۴)

نېټه: ۱۴۴۰/۹/۱ هـ.ق

دا چې زمورږ ځينې هېوادوال له تېرو څو لسيزو څخه په بهرنيو هېوادو کې د مهاجرت وخت تېروي، همدارنګه د اسلامي امارت تر واک لاندې سيمو کې ځينې خلک د کابل د اداري تر واک لاندې سيمو کې اوسېږي او ځينې يې د دښمن په صف کې ولاړدي، د يادو ټولو خلکو جايدادونه او شخصي ملکيتونه نه څوک غصب کولای شي او نه يې مجاهدين يا بل څوک ترې تصرف کولای شي، هېڅ ډول ځمکه او نور جايداد له شريعت، اصولو او د شرعي محاکمو له پرېکړو پرته څوک تصرف کولای

بسم الله الرحمن الرحيم

فرمان

عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله در مورد جلوگيری از تصرف غير قانونی و غصب زمين‌های شخصی

شماره: (۴۴/ج۴)

تاريخ: ۱۴۴۰/۹/۱ هـ.ق

از اينکه بعضی از هموطنان ما از چند دهۀ گذشته در کشورهای خارجی در مهاجرت به سر می برند، همچنان بعضی مردم مناطق تحت تسلط امارت اسلامی، در مناطق تحت تسلط ادارۀ کابل زندگی می‌نمايند و عدۀ از آنها در صف دشمن قرار دارند، جايدادها و ملکيت شخصی تمام مردم متذکره را کسی نه غصب کرده می‌تواند و نه مجاهدين يا کس ديگری آن را تحت تصرف قرار داده می‌تواند. کسی نمی‌تواند هيچ گونه زمين و ساير جايدادها را بدون شريعت، اصول و فيصله‌های محاکم شرعی تصرف

نه شي.

په دې هکله هـــر ډول جعـــل، بهانه او غيرشرعي دليـــل د قبول وړ نه دی. د غصب د مخنيـــوي او له اتهام څخه د نجات په خاطر به مرتکبـــينو ته شرعي سزا ورکول شي.

والسلام

اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث

مولوي هبة الله اخندزاده

نماید.

هر گونه جعل، بهانه و دلیل غیر شرعی در این مورد قابل قبول نیســـت. بـــه خاطر جلوگیری از غصـــب و نجـــات از اتهام به مـــرتکبین جـــزای شـــرعی داده خواهد شد.

والسلام

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث

مولوی هبة الله اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحيم

د دفتري لوازماتو او

امارتي وسايلو په اړه

د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله

حکم

ګڼه: (۳۱/ج۴)

نېټه: ۱۴۴۰/۶/۱۶هـ.ق

د کمېسيونونو او ولاياتو مسوولينو ته!

السلام عليکم و رحمة الله و برکاته!

و بعد: د هر کمېسيون لوازمات، وسايط او وسايل د هماغه کمېسيون دارتيا لپاره خريداري شوي، په هماغه کمېسيون کې به تر ې استفاده کېږي له دې امله ټولو مسوولينو او امارتي چارواکو ته هدايت ورکول کېږي چې د تبادلې په صورت کې به د کمېسيون مربوط اجناس، وسايط او توکي له ځان سره بل کمېسيون ته نه وړي، بلکې نوي مسوول ته به يې په اصولي توګه ورسپاري.

همدا راز د (۵۲ج۲/ ۱۴۳۸/۶/۱۷ هـ.ق) ګڼه حکم په تعقيب د ولاياتو

بسم الله الرحمن الرحيم

حکم

عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله

در مورد لوازم دفتری و وسايل امارتی

شماره: (۳۱/ج۴)

تاريخ: ۱۴۴۰/۶/۱۶هـ.ق

به مسؤولين کميسيون‌ها و ولايات!

السلام عليکم و رحمة الله و برکاته!

و بعد: لوازم، وسايط و وسايل هر کميسيون برای ضرورت همان کميسيون خريداری شده، در همان کميسيون از آن استفاده می‌گردد. به اين وسيله به تمام مسؤولين و مقامات امارتی هدايت داده می‌شود که در صورت تبديلی، اجناس، وسايط و اشياء مربوط به کميسيون را با خود به کميسيون ديگر نبرند، بلکه آن‌را به‌طور اصولی به مسؤول جديد می‌سپارند.

همچنان به تعقيب حکم شماره (۵۲ ج۲ /۱۴۳۸/۶/۱۷ هـ.ق) به

مسوولینو ته هم تاکیداً حکم کېږي چې د ولایت مربوط اجناس، نقلیه وسایط او نور وسایل نوي والي ته په اصولي توګه وروسپاري.

والسلام

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث

مولوي هبة الله اخندزاده

مسؤولین ولایات نیز تأکیداً حکم می‌گردد که اجناس، وسایط نقلیه و وسایل دیگر مربوط به ولایت را به‌طور اصولی به والی جدید بسپارند.

والسلام

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث

مولوی هبة الله اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحيم

تر اوږو د اوږدو څنو

د اصلاح په اړه

د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله

هدایات

ګڼه: (۴۸/ج۴)

نېټه: ۱۴۴۰/۱۰/۱۸هـ.ق

ځيني مجاهدين ليدل کېږي چې د سر وېښتان يې د سنتو خلاف اوږده کړي دي. په وېښتانو کې سنت درې ډوله وي: وفره (تر غوږونو) جمه (تر اوږو) او لمه (د غوږونو او اوږو ترمنځ) حال دا چې د ځينو وېښتان له اوږو هم کښته ځوړند وي امنيتي خطر او د مجاهدينو د لايحې د (۸۱) مادې مخالفت هم دی. (۸۱) ماده: مجاهدين دې د شريعت په چوکاټ کې خپله ظاهري بڼه؛ لکه د سر وېښته، جامې، بوټونه او نور د سيمې د عامو خلکو په شکل جوړ کړي، چې له يوې خوا به مجاهدين او محلي خلکو ته له امنيتي اړخه ګټه ورسوي او له بلې خوا به

بسم الله الرحمن الرحيم

هدایات

عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله

در مورد اصلاح موهای دراز

تا شانه

شماره: (۴۸/ج۴)

تاریخ: ۱۴۴۰/۱۰/۱۸هـ.ق

بعضی از مجاهدین دیده می‌شوند که موهای سر خود را خلاف سنت دراز نموده اند. سنت در موی سر سه نوع می‌باشد: وفره (تا گوش‌ها) جمه (تا شانه‌ها) و لمه (میان گوش‌ها و شانه‌ها)، حال آنکه موهای بعضی‌ها از شانه‌ها نیز پایین‌تر آویزان بوده که خطر امنیتی و مخالف مادۀ (۸۱) لایحۀ مجاهدین نیز می‌باشد، مادۀ (۸۱): مجاهدین در چارچوب شریعت، شکل ظاهری خویش؛ مانند موهای سر، لباس‌ها، بوت‌ها و غیره را به شکل مردم عام منطقه عیار نمایند، که از یک طرف به مجاهدین و مردم محل از نگاه امنیتی مفاد برساند و از

مجاهـــدين په اسانـــۍ سره هـــر لـــور ته تلای راتلای شي.

له دې امله دې: نظامـــي کمېسيون پـــه اصولي او مؤثره طريقه مجاهدين پـــوه کړي، ترڅو خپل وېښتان د سنتو مطابق برابرکړي.

د دعـــوت او ارشـــاد کمېسيون دې د امربالمعروف او نهـــی عن المنـــکر د طرزالعمل د دوه يم فصل د (٦) مادې مطابق متخلفينو ته توصيه وکـــړي او په معروفه طريقه دې له دې عمل څخه منع کـــړي. د دې لپاره چې مجاهـــــدين دې خبرې ته پوره متوجه شـــي، ودې پوهـــول شي چې دا ډول اوږدې څېړنې د لانـــدې دلايلو له مخې لنډې او پـــه مبارکو سنتو برابري کړي:

۱- د سنتو خلاف عمل دی چې د الهي نصرتونو د قطع کېدو سبب ګرځي.

۲- له مېرمنو سره تشبيه ده چـــې دا د لعنت وړ عمل ګڼل شوی دی.

۳- د زياتـــو خلکو د اعـــتراض سبب ګرځي چې مجاهدين او طالبان د سنتو خلاف وېښتانو هېڅ پروا نه کوي.

سوی دیگر مجاهـــدین هـــر طـــرف به سهولت رفت و آمد کرده بتوانند.

از این جهت: کمیسیون نظامی به طریقهٔ اصولی و مؤثر مجاهدین را بفهماند، تا موهای خود را مطـــابق ســـنت برابـــر نمایند.

کمیسیون دعـــوت و ارشـــاد مطـــابق مـــادهٔ (٦) فصـــل دوم طرزالعمـــل امر بالمعروف و نهی عن المنکـــر بـــه متخلفین توصیه نموده و بـــه طریقـــهٔ معروف از این عمل آنها را منع نمایند.

برای اینکه مجاهدین به این موضـــوع به طور کامل متوجه گردد، فهمانـــده شوند که این چنـــین موهـــای دراز را مطـــابق دلایـــل ذیـــل کوتـــاه نموده و به سنت مبارک عیار نمایند:

۱- عمل خلاف سنت است که سبب قطع نصرت های الهی می‌گردد.

۲- شباهت با خانمها بوده کـــه ایـــن عمل قابل لعنت شمرده شده است.

۳- سبب اعتراض تعـــداد زیـــادی از مردم می‌گردد که مجاهدین و طالبـــان پروای موهای خلاف سنت را ندارند.

۴- د سر زيات ببرتوب پخپله، ټولنه کې له بې ځايه هيبت او وحشت پرته بل کوم اغېز نه لري، په اوس زمانه کې له کافرانو سره جنګ هم په لويو اسلحو او لېرې فاصله کې وي، مخامخ له نژدې نه نوي ترڅو دښمن ترې مرعوب شي.

۵- د مجاهدينو جهادي او د طالبانو علمي بوختيا زياته وي، ځکه چې دا ډول وېښتان زياتې توجه او حفاظت ته اړتيالري، چې د وخت د ضياع سبب ګرځي، که نه نو بيا ډېر ځله يې شکل او هيئت معتادينو (په نشو اخته کسانو) ته ورته والی پيدا کوي.

٦- د بې ځايه غرور او تکبر سبب ګرځي چې د دنيا او اخرت لپاره خطرناکه ګناه ده.

۷- کله داسې هم پېښه شي چې ځنې مجاهدين ګودر کې سر وينځي، ځنې غوړوي او ږمنځوي يې حال دا چې د سيمه ييز دستور له مخې ښځې وخت په وخت له ويالو او ګودرونو څخه اوبه

۴- دراز بودن بیش از حد موی سر به ذات خود، جز هیبت و وحشت بی‌جا در جامعه کدام تاثیر دیگری ندارد. در عصر حاضر، جنگ با کفار نیز با سلاح‌های بزرگ و از فاصلهٔ دور می‌باشد، از نزدیک و روبرو نمی‌باشد تا دشمن از آن مرعوب گردد.

۵- مصروفیت جهادی مجاهدین و علمی طالبان زیاد می‌باشد؛ زیرا این‌چنین موها به توجه و حفاظت زیاد نیاز دارد که سبب ضیاع وقت می‌گردد، در غیر آن اکثر اوقات به شکل و هیئت معتادین (اشخاص معتاد به نشه) شباهت پیدا می‌کنند.

٦- سبب غرور و تکبر بی‌جا می‌گردد که برای دنیا و آخرت گناهی خطرناک است.

۷- گاهی این چنین نیز رخ می‌دهد که مجاهدین موی دراز، سر خود را در لب دریا و چشمه آب می‌شویند، چرب و شانه می‌نمایند حال آنکه طبق رواج محلی، زنان وقتاً فوقتاً از جوی‌ها و چشمه‌ها آب میبرند و یا در آنجا

وړي يا هلته کالي وينځي.

۸- دا چې د دښمن له لوري مجاهدين تعقيبېږي او د دا ډول څېړنې له امله يې جاسوسان پېژندي او امنيتي خطر ورته پېښېږي.

د اسلامي امارت مرکزي دارالافتاء تر اوږو د اوږدو څېړنو په هکله د ګڼو احاديثو او معتبرو فقهاوو د اقوالو په نقل کولو سره په (۱۴۴۰/۹/۳هـ.ق) نېټه او (۱۸۰) ګڼه صادر شوې فتواء کې ليکلي دي (...وېښتان تراوږو زيات اوږدول په سنت څېړنو کې نه راځي، نو ځکه بايد ځان ترې وساتل شي، په تېره بيا چې د پورتنيو مفاسدو لامل ګرځي...)

والسلام

اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث

مولوي هبة الله اخندزاده

لباس شویی می‌کنند.

۸- از اینکه مجاهدین از سوی دشمن تعقیب می‌گردند و از اثر این چنین موها، توسط جواسیس شناسایی گردیده و خطر امنیتی برایشان واقع می‌گردد.

دارالافتای مرکزی امارت اسلامی در مورد موهای دراز تر از شانه‌ها با نقل از احادیث و اقوال فقهای متعدد و معتبر در فتوای صادر شده مؤرخ (۳ /۹/ ۱۴۴۰هـ.ق) و شماره (۱۸۰) نوشته است: (... دراز کردن موهای سر از شانه در جملۀ موهای سنت نمی‌آید؛ بناً باید از آن خودداری شود، به خصوص که سبب مفاسد فوق می‌گردد...)

والسلام

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث

مولوی هبة الله اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحيم

د کشف الحال لپاره د متهمينو د بندي کولو د صلاحيت او بند د مودې په هکله د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله فرمان

ګڼه: (۸/ج۵)

نېټه: ۱۴۴۱/۳/۷هـ.ق

که يو متهم کس وي چې په اړه يې د کشف الحال ضرورت وي، يې واځې د ولايت او استخباراتو مسوولين کولای شي چې د کشف الحال په غرض يې بندي کړي، چې د بند موده به يې ميياشتې ته نه رسوي، که د کشف الحال لپاره زيات وخت ته ضرورت وو، بيا به له محکمې څخه تمديد اخلي، د بند په موده کې به له هر قسم تعذيب ورکولو څخه اجتناب کوي، ځکه چې د تعذيب او تعزير صلاحيت له محکمې سره دی، که نور څوک بې له محکمې يو چا ته تعذيب او تعزير ورکوي دا عدالت نه بلکې ظلم دی. د ظلم

بسم الله الرحمن الرحيم

فرمان

عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله

در مورد صلاحيت زندانی نمودن برای کشف الحال متهمين و مدت توقيف

شماره: (۸/ج۵)

تاريخ: ۱۴۴۱/۳/۷هـ.ق

اگر يک شخص متهم باشد که در مورد وی کشف الحال ضرورت باشد، صرف مسؤولين ولايت و استخبارات می توانند که به غرض کشف الحال وی را زندانی نمايد که مدت توقيف وی را به يک ماه نرساند. اگر برای کشف الحال به وقت بيشتر ضرورت بود در اين صورت از محکمه تمديد اخذ نمايند. در مدت توقيف از هر نوع تعذيب دادن اجتناب نمايند؛ زيرا که صلاحيت تعذيب و تعزير نزد محکمه است، اگر غير از محکمه کدام شخص به کسی تعذيب و تعزير ميدهد، اين عدالت نه بلکه ظلم است. جلوگيری

مخنيوى واجب او د ظلــم پربښــودل حرام دي: واختلفو في مقــدار الحبس في التهمة هل هو مقــدر او مرجعه الى اجتهاد الوالي والحــاكم على قــولين ذكرهما الماوردي و ابـــو يعلــى و غيرهما، فقال الــزبيري: هــو مقــدر بشهر، و قال الماوردي: غير مقـــدر (الطــرق الحكميــة ص ۹۳ -۱۰۰- ۱۰۳)

والسلام

اميرالمؤمنين شبخ القرآن والحديث

مولوي هبة الله اخندزاده

از ظلم واجب و گذاشتن ظلم حــرام است: واختلفو فی مقدار الحبس فــي التهمة هل هو مقدر او مرجعــه الــى اجتهاد الوالي والحاكم علــى قــولين ذكرهما المــاوردي و ابــو يعلــي و غيرهما، فقال الزبيري: هو مقدر بشهر، و قال المــــاوردي: غيــــر مقــدر (الطــرق الحكميــة ص ۹۳- ۱۰۰- ۱۰۳)

والسلام

اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث

مولوی هبة الله اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحيم

له بنديانو سره د بنه سلوک

کولو په هکله

د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله

فرمان

ګڼه: (۹/ج۵)

نېټه: ۱۴۴۱/۳/۷هـ.ق

الحمدلله و کفی و سلام علی عباده الذين اصطفی اما بعد: فقد قال الله تعالی: و يطعمون الطعام علی حبه مسکينا و يتيما و اسيرا (سورة الدهر، آية ۸)

الله جل جلاله په دې مبارک آية کې په تأکيد سره له بنديانو سره په بنه سلوک امر کړی دی، قاله قتادة، او په حديث شريف کې نبي صلی الله عليه و سلم فرمايلي دي: (استوصوا بالأساری خيرا) اخرجه الطبرانی عن أبی عزيز، و هو حديث حسن.

ژباړه: له بنديانو سره د بنه سلوک کولو وصيت قبول کړئ. له بندي څخه مراد هغه بندي دی چې له مشرکينو

بسم الله الرحمن الرحيم

فرمان

عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله

در مورد رفتار نيک

با محبوسين

شماره: (۹/ج۵)

تاريخ: ۱۴۴۱/۳/۷هـ.ق

الحمد لله و کفی و سلام علی عباده الذين اصطفی اما بعد: فقد قال الله تعالی: و يطعمون الطعام علی حبه مسکينا و يتيما و اسيرا (سورة الدهر، آية ۸)

الله جل جلاله در اين آيت مبارک تأکيداً به رفتار نيک با محبوسين امر کرده است، قاله قتادة، و در حديث شريف نبی صلی الله عليه و سلم فرموده است: (استوصوا بالأساری خيرا) اخرجه الطبرانی عن أبی عزيز، و هو حديث حسن.

ترجمه: وصيت رفتار نيک با محبوسين را قبول نمائيد. مراد از محبوس آن زندانی است که در جنگ از مشرکين

څخه په جنګ کې نیول شوی وي. حسن بصري رحمه الله ویلي دي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته به بندي راوستل شو، ده به له مسلمانانو څخه یو چا ته ورکړ ورته و به یې ویل ښه ورسره کوه له هغه سره به دوې درې ورځې وو، تر څان به یې له بندي سره ښه کول.

قتادة صاحب ویلي دي: د دوی بندیان مشرکین وو، دوی ښه سلوک ورسره کاوه، ستا سره که یو مسلمان بندي شي هغه خو بیخي د دې حقدار دی چې ښه سلوک ورسره وکړئ، هکذا في تفسیر القرطبي و تفسیر روح المعاني.

والسلام

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث

مولوي هبة الله اخندزاده

گرفته شده باشد. حسن بصری رحمه الله گفته است که زندانی به رسول الله صلی الله علیه و سلم آورده می‌شد،وی او را به یکی از مسلمانان می‌داد و به وی می‌گفت: با او نیکی کن. دو، سه روز با وی می‌بود، از خود بیشتر با زندانی نیکی می‌کرد.

قتادة صاحب گفته است: زندانیان آنها مشرکین بودند، ایشان رفتار نیک همرای شان می‌کردند، اگر نزد شما یک مسلمان زندانی شود، وی قطعاً مستحق این است که با وی رفتار نیک نمائید. هکذا في تفسیر القرطبي و تفسیر روح المعاني.

والسلام

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث

مولوی هبة الله اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحيم

د فرامينو، احکامو او محرمو اسنادو د نه خپرولو او ساتنې په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله حکم

ګڼه: (۳۶/ج۵)

نېټه: ۱۴۴۱/۴/۱۰هـ.ق

په امارتي ادارو کې د اسرارو ساتنه د ټولو مسوولینو او کار کوونکو دنده ده، د دې لپاره چې په کارونو کې د بې باورۍ او ګډوډۍ مخنیوی وشي لاندې مواد دې عملي شي:

۱- ټول امارتي مسوولین مکلف دي چې ادارو ته راتلونکي د مشرتابه فرامین، احکام او هدایات په سمه توګه خوندي کړي او خپلو اړوندو ادارو ته یې هم په محفوظ ډول ورسوي.

۲- ټول امارتي مسوولین دې خپلو ما تحت مسوولینو او کار کوونکو ته په کلکه توصیه وکړي چې د مشرتابه

بسم الله الرحمن الرحيم

حکم عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله در مورد عدم نشر و حفاظت فرامین، احکام و اسناد محرم

شماره: (۳۶/ج۵)

تاریخ: ۱۴۴۱/۴/۱۰هـ.ق

حفظ اسرار در ادارات امارتی، وظیفهٔ تمام مسؤولین وکارمندان است. برای این‌که از بی‌باوری و بی‌نظمی در امور جلوگیری شود، مواد ذیل عملی گردد:

۱- تمام مسؤولین امارتی مکلف اند که فرامین، احکام و هدایات رهبری را که به ادارات مواصلت می‌ورزد به شکل درست نگهداری نماید و به‌طور مصون به ادارات مربوطه خویش نیز آن‌را برسانند.

۲- تمام مسؤولین امارتی به مسؤولین و کارمندان تحت اثر خویش جداً توصیه نمایند که فرامین و احکام

فرامین، احکام، رسمي مکتوبونه او د ادارو محـــرم اسناد دې په هېڅ ډول په خواله رسنیو؛ لکه فیسبوک، ټویټر او داسي نورو یا د واټســـاپ، ټیلیګرام او نورو عامو ګروپونو له لارې نه خپروي.

والسلام

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث

مولوي هبة الله اخندزاده

رهبری، مکاتیب رسمی و اسناد محرم ادارات را به هیچ صـــورت از طریـــق رسانه‌های جمعی؛ مانند فـــیس‌بـــوک، تویتر و غیره یا از وتساپ، تیلگـــرام و سایر گروپ‌های عام نشر ننمایند.

والسلام

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث

مولوی هبة الله اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحيم

د مفقودينو د موضوع په هکله د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله فرمان

ګڼه: (۴۳/ج۵)

نېټه: ۱۴۴۱/۴/۱۰هـ.ق

محاکمو ته ډېر وختونه د مفقود مسئله راجع کېږي، قاضيان په کې متردد وي چې پر کوم قول د فقهاوو فيصله وکړي؛ ځکه چې په نومورې مسئله کې د فقهاوو مختلف اقوال راغلي دي؛ نو د دې لپاره چې د قاضيانو تردد له منځه ولاړ شي قاضيان دې د مفقود د زوجې په هکله که کومه قضيه ورته راجع شي او مفقود د مفقود في الحروب و مظان الهلاک له جملې څخه وي، محکمه دې د احنافو علماوو د قول مطابق چې قراين يې د مرګ څرګند وي او دومره اوږده موده تېره شوې وي چې د قاضي غالب ګمان د مرګ پرې راځي، حکم دې په مرګ د

بسم الله الرحمن الرحيم

فرمان

عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله

در مورد موضوع مفقودين

شماره: (۴۳/ج۵)

تاريخ: ۱۴۴۱/۴/۱۰هـ.ق

اکثر اوقات مسأله مفقود به محاکم راجع می‌گردد، قضات در آن متردد می‌باشند که به کدام قول فقها فیصله نمایند؛ زیرا که در مسأله متذکره اقوال مختلف فقها آمده است؛ فلهذا برای اینکه تردد قضات از بین برود اگر در مورد زوجۀ مفقود کدام قضیه به قضات راجع شود و مفقود از جملۀ مفقود فی الحروب و مظان الهلاک باشد، محکمه مطابق قول علمای احناف که قراین مرگ وی آشکار باشد و آنقدر مدت طولانی گذشته باشد که گمان غالب قاضی به مرگ بیاید، حکم را به مرگ مفقود صادر نماید. پس از آن به زوجۀ مفقود امر سپری

مفقود صادر کړي له هغه وروسته دې د مفقود زوجې ته د وفات د عدت په تېرولو امر وکړي، له هغه وروسته دې د بل زوج سره د نکاح اجازه ورکړي، البته څرنګه چې دا مسئله د یو چا په مرګ باندې حکم کول دي د ډېر احتیاط په خاطر دې لاندې مراحل هم په نظر کې ونیول شي، په نوموړې قضیه کې دې ټول محاکم د محاکمو د عالي اداري سره جریان شریکوي په نوموړې قضیه کې چې د عالي اداري کوم شرایط دي هغه دې په پام کې ونیسي او د عالي اداري تر تایید وروسته دې فیصله مشرتابه ته راجع شي، د مشرتابه تر تایید وروسته دې نافذ شي.

والسلام

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث

مولوي هبة الله اخندزاده

نمودن عدت وفات را نماید، پس از آن اجازۀ نکاح با زوج دیگر را بدهد. البته از اینکه این مسأله، حکم کردن به مرگ کسی می‌باشد به خاطر احتیاط بیشتر مراحل ذیل نیز درنظر گرفته شود. در قضیۀ متذکره تمام محاکم جریان را با ادارۀ عالی محاکم شریک سازد، در قضیۀ یاد شده، ادارۀ عالی که دارای کدام شرایط می‌باشد آنرا در نظر بگیرند و پس از تائید ادارۀ عالی، فیصله به رهبری راجع شود، بعد از تائید رهبری نافذگردد.

والسلام

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث

مولوی هبة الله اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحيم

د امارتي ادارو او کمپسيونونو له خوا د کتابونو د چاپ په هکله د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله حکم

ګڼه: (٦١/ج٥)

نېټه: ١٤٤١/٦/١٠هـ.ق

که د اسلامي امارت يوه اداره يا کمپسيون د خپلې اداري يا کمپسيون د اړوندو چارو د تنظيم لپاره د تګلارې کوم کتاب جوړ کړي، نو له ترتيبولو وروسته دې د اسلامي امارت مشرتابه ته وړاندې کړي او په خپل سردې نه چاپوي، تر څو د مشرتابه تر منظوري وروسته چاپ او توزيع شي.

والسلام

اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث

مولوي هبة الله اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحيم

حکم

عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله

در مورد چاپ کتاب‌ها از طرف ادارات امارتی و کمیسیون‌ها

شماره: (٦١/ج٥)

تاريخ: ١٤٤١/٦/١٠هـ.ق

اگر یک ادارهٔ امارت اسلامی یا کمیسیون، برای تنظیم امور مربوط به اداره یا کمیسیون خویش کدام کتاب رهنمودی ترتیب نماید، پس از ترتیب نمودن آن‌را به رهبری امارت اسلامی ارائه نماید و خودسرانه چاپ ننماید، تا پس از منظوری رهبری چاپ و توزیع شود.

والسلام

اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث

مولوی هبة الله اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحيم

د عمومي محاذونو د لغو کېدلو په هکله

د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله فرمان

ګڼه: (۱۲۴/ج٦)

نېټه: ۱۴۴۲/٦/۵هـ.ق

د اسلامي امارت ټولو مسوولینو ته!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

و بعد: ټولو مسوولینو ته امر کوم، کـه کوم والي یا بل مشر له پخوا څخه لـه خپل ولایت څخه علاوه په بل ولایـت کې فعاله ګروپ یا ډلګی لري د هغـه ولایت مسوول ته دې خپل ډلګـی او مربوطه مجاهدین معرفي کړي، چې لـه دې وروسته به د هغه والـي اطاعـت کوي، په اجراآتو کې به له هغه څخـه هدایت اخلي او اکمال به یـې هـم د ولایت د نورو مجاهدینو په څېر د هغه ولایت مسـوولین کـوي، د اسـلامي امارت په تشکیلاتو کې عمومي محاذونه بند دي او داسې محاذونه د اسـلامي

بسم الله الرحمن الرحیم

فرمان

عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله

در مورد لغو محاذهای عمومی

شماره: (۱۲۴/ج٦)

تاریخ: ۱۴۴۲/٦/۵هـ.ق

به تمام مسؤولین امارت اسلامی!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

و بعد: به تمام مسؤولین امر می‌کـنم، اگر کدام والی یـا مسـؤول دیگـر علاوه از ولایت خویش در ولایت دیگر از قبل دلگی یا گـروپ فعال داشـته باشد، مجاهدین مربوطه و دلگی خـود را به مسؤول آن ولایت معرفی کند که بعد از این از آن والی اطاعت نماینـد، در اجراآت از وی هـدایت بگیرنـد و مسـؤولین آن ولایـت ماننـد سایر مجاهـدین ولایـت، آن‌هـا را نیز اکمال نمایند. در تشکیلات امارت اسلامی محاذهای عمومی بنـد اسـت و ایـن چنـین محاذهـا در

امارت په تشـــکیلاتو کـــې رســـمیت نه لري.

ټولو ته مو جدي امر دی چې هېڅـــوک دې د نورو ولایتونو ډلګی په ځـــانونو پوري نه مربوطوي، کومې ډلګی چې په نورو ولایتونو کې د چا مربـــوطې دي؛ هغه دې مستقلې شي.

والسلام

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث

مولوي هبة الله اخندزاده

تشکیلات امارت اســـلامی رســـمیت ندارد.

به همه، امر جدی ما است که هـــیچ شخص دلگی‌های ولایـــات دیگـــر را مربوط خویش ننماید. دلگی‌هایی که در ولایات دیگر به کسی مربوط اســـت، آن‌ها مستقل شوند.

والسلام

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث

مولوی هبة الله اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحيم

د محاکمو له فيصلې پرته د سزا ورکولو او بيا يې د عکاسي کولو د مخنيوي په هکله

د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله حکم

ګڼه: (٦٥/ج٦)

نېټه: ١٦/٣/١٤٤٢هـ.ق

د سپېځلي شريعت له مخې په متهمينو د جرم ثبوت او مجرمينو ته د سزا ورکولو صلاحيت يوائې شرعي محکمې ته ورکړل شوی او هر څوک دا حق نه لري چې په خپل سر مجرم ته سزا ورکړي.

په حدودو، تعزيراتو او سزاګانو باندې به مطلوب اثرات چې د خپل رب رضا حاصلول او د جرمونو مخه نيول دي هغه مهال مرتب وي چې د تثبيت او تطبيق جريان يې د شرعي هدايتو مطابق ترسره شي او د جرم په اندازه سزا ورکړل شي.

نو له دې امله ټولو امارتي مسوولينو او

بسم الله الرحمن الرحيم

حکم

عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله

در مورد جلوگیری از مجازات بدون فیصلهٔ محاکم و عکاسی از آن

شماره: (٦٥/ج٦)

تاریخ: ١٦/٣/١٤٤٢هـ.ق

طبق شریعت مقدس، صلاحیت ثبوت جرم بر متهمین و جزا دادن برای مجرمین تنها به محکمهٔ شرعی داده شده و شخصی حق این را ندارد که خود سرانه به مجرم جزا بدهد.

اثرات مطلوب بالای حدود، تعزیرات و جزاها که همان حاصل نمودن رضای رب خویش و جلوگیری از جرایم است، زمانی مرتب می‌باشد که جریان اثبات و تطبیق آن مطابق هدایات شرعی انجام یابد و به اندازهٔ جرم جزا داده شود.

پس به این وسیله به تمام مسؤولین

مجاهدينو ته هدايت ورکول کېږي چې لاندې دوو خبرو ته په جدي توګه متوجه واوسئ:

۱- هېڅوک اجازه نه لري چې د محکمې له حکم پرته څوک په لنبتو، درُو او کېبل ووهي او يا کوم بل ډول تعذيب ورکړي. مجاهدين چې کله څوک اسيران کړي، هغوی که سياسي بنديان وي يا جنايي، د محکمې له پرېکړې پرته د سزا ورکولو حق نه لري.

۲- هېڅوک اجازه نه لري چې د سزا د تطبيق جريان عکاسي کړي يا ورځخه ويډيو وکړي.

له پورته خبرو څخه تخلف کوونکی مجرم ګڼل کېږي، د اسلامي امارت ټول اړونده مسوولين خصوصاً والي صاحبان دنده لري چې مسوولين او مجاهدين پوه کړي او هم تخلف کوونکي په خپل وخت پيدا او مسوول ارګان ته يې ور معرفي کړي، تر څو له شرعي اصولو او فرامينو څخه د تخلف، د نظم د اخلال او د اسلامي امارت د بدنامولو له

امارتی و مجاهدين هدايت داده می‌شود که به دو نکتهٔ ذيل به طور جدی متوجه باشيد:

۱- هيچ کس اجازه ندارد که بدون حکم محکمه کسی را با چوب، دُره و کيبل بزند يا به گونهٔ ديگر تعذيب کند. هرگاه مجاهدين کسی را اسير نمايند، اگر آن‌ها زندانی‌های سياسی باشند يا جنايی، بدون فيصلهٔ محکمه حق جزا دادن را ندارند.

۲- هيچ کس اجازه ندارد که از جريان تطبيق جزا عکاسی نمايد يا از آن ويديو تهيه کند.

متخلف از نکات فوق، مجرم شمرده می‌شود. تمام مسؤولين مربوط امارت اسلامی خصوصاً والی صاحبان وظيفه دارند که مسؤولين و مجاهدين را بفهمانند و نيز متخلفين را در اسرع وقت پيدا و به ارگان مسؤول آن معرفی نمايند، تا به‌خاطر تخلف از اصول شرعی و فرامين، اخلال در نظم و بدنام ساختن امارت اسلامی

امله سزا ورکـــړل شـــي، چې دا به بيـــا د دوی او نورو تخـــلف کوونکو لپاره عبرت شي.

والسلام

اميرالمؤمنين شبخ القرآن والحديث

مولوي هبة الله اخندزاده

جزا داده شوند که این بـــرای آن‌هـــا و ســـــایر متخلفـــــین عبـــــرت می‌گردد.

والسلام

اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث

مولوی هبة الله اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحيم

د امارتي ځمکو د غصب

د مخنيوي په هکله

د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله

فرمان

ګڼه: (۴)

نېټه: ۱۴۴۳/۲/۱۵ هـ.ق

دا چې په تېرو شلو کلونو کې د ګودامګۍ اداري تر سيوري لاندې له نورو ناخوالو سره سره د امارتي ځمکو غصبول هم يو معمول وو، د ځمکو غاصبين تل له حالاتو په ګټه اخيستلو سره خپل دغه ناوړه عمل ته دوام ورکوي، د اسلامي امارت د شرعي نظام په راتلو سره زموږ مسوولیت جوړېږي چې د ځمکو د هر ډول غصب مخه ونيسو؛ بناءً د ټولو ولايتونو واليان په دې مکلف دي چې له دې وروسته په کلکه د امارتي ځمکو

بسم الله الرحمن الرحيم

فرمان

عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله

در مورد جلوگيری از غصب

زمين‌های امارتی

شماره: (۴)

تاريخ: ۱۴۴۳/۲/۱۵ هـ.ق

از اين‌که در بيست سال گذشته تحت سايۀ ادارۀ دست نشانده، در کنار ساير نابسامانی‌ها، غصب زمين‌های امارتی نيز يک معمول بود، غاصبين زمين هميشه با استفاده از شرايط، به اين عمل ناپسند خود دوام می‌دهند. با آمدن نظام شرعی امارت اسلامی مسؤوليت ما می‌گردد که جلو هرگونه غصب زمين را بگيريم؛ بناءً واليان همه ولايات مکلف‌اند که بعد از اين، از غصب زمين‌های امارتی جداً جلوگيری نمايند

د غصب مخنيوی وکړي او غاصبين يې د شرعي قانون منګولو ته وسپاري.

والسلام

اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث

مولوي هبة الله اخندزاده

و غاصبين آن را به پنجهٔ قانون شرعی بسپارند.

والسلام

اميرالمؤمنين شيخ القرآن والحديث

مولوی هبة الله اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحيم

د مشرتابه مقام له اجازې پرته

په ملکيت د ځمکو د

نه ورکړې په هکله

د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله

فرمان

ګڼه: (۸)

نېټه: ۱۴۴۳/۳/۱۷هـ. ق

د مشرتابه مقام له اجازې پرته هېڅوک نه شي کولای چې چا ته ځمکه په ملکيت ورکړي، مبسوط سرخسي ليکلي دي:

أن للإمام ولاية الإ قطاع فيما ليس بملک لإنسان بعينه، لأن ماکان الحق فيه لعامة المسلمين فالتدبير فيه إلى الإمام، وله أن يخص بعضهم بشی من ذلک علی حسب ما يری، کما يفعله فی بيت المال. (المبسوط للسرخسی)

ژباړه: هغه ځمکه چې د مشخص تن ملکيت نه وي، (يوازې عمومي) امير صلاحيت لري چې چا ته يې په ملکيت ورکړي؛

بسم الله الرحمن الرحيم

فرمان

عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله

در مورد به ملکيت ندادن

زمين‌ها، بدون اجازۀ

مقام رهبری

شماره: (۸)

تاريخ: ۱۴۴۳/۳/۱۷هـ. ق

هيچ شخص نمی‌تواند، بدون اجازۀ مقام رهبری زمين را به ملکيت شخصی بدهد، مبسوط سرخسی نوشته است:

أن للإمام ولاية الإ قطاع فيما ليس بملک لإنسان بعينه، لأن ماکان الحق فيه لعامة المسلمين فالتدبير فيه إلى الإمام، وله أن يخص بعضهم بشی من ذلک علی حسب ما يری، کما يفعله فی بيت المال. (المبسوط للسرخسی)

ترجمه: زمينی که ملکيت شخص مشخص نباشد، امير (تنها عمومی) صلاحيت دارد که آن را به ملکيت شخصی بدهد؛

ځکه هغه څه چې د ټولـــو مســـلمانانو شریک وي په هکلـــه یـــې اختیـــار د (عمومي) امیر دی، هغه د لزوم دیـــد او مصلحت لـــه مخـــې کـــولای شـــي (د اسلامي ټولنې) یو تن ته یې په ملکیت ورکـــړي، لکـــه څنګـــه چـــې پـــه بیت الـــــمال کـــې تصـــرف کـــوي (د مصلحت له مخې یې یو څه برخه یوه تن ته ورکوي).

والسلام

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث

مولوي هبة الله اخندزاده

زیرا آن چیزی که تمام مسلمانان در آن شریک باشند، اختیار آن بدست امیـــر (عمومی) می‌باشـــد. وی بـــه اســـاس لزوم دیـــد و مصـــلحت مـــی توانـــد آن را بـــــه ملکیـــــت یـــــک تـــــن (از جامعهٔ اسلامی) بدهد؛ همانگونه که در بیت الـــمال تصـــرف مـــی‌کنـــد (به اساس مصلحت حصهٔ از آن را بـــه یک تن می‌دهد).

والسلام

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث

مولوی هبة الله اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحيم

د نظامي محکمو د چارو

د حدودو د ټاکلو په هکله

د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله

فرمان

ګڼه: (۱۹)

نېټه: ۱۴۴۳/۴/۲۳ هـ.ق

نظامي محاکم د شرعي احکامو په رڼا کې د اسلامي امارت د درې ګونو امنيتي ارګانونو (ملي دفاع وزارت، کورنيو چارو وزارت او د استخباراتو لوی رياست) پر چارواکو او منسوبينو باندې د ترسره شويو شکاياتو، دعواوو او عريضو د اوربدلو او څېړلو او د اثبات په صورت کې د شرعي پرېکړو د صادرولو صلاحيت لري، چې د پرېکړو (حدود، قصاص او اعدام) تطبيق به يې د درې ګونو محکمو او اسلامي امارت د مشرتابه له تائيد وروسته په عملي ډول ترسره کېږي.

بسم الله الرحمن الرحيم

فرمان

عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله

در مورد تعيين حدود امور محاکم نظامی

شماره: (۱۹)

تاريخ: ۱۴۴۳/۴/۲۳ هـ.ق

محاکم نظامی در روشنی احکام شرعی، صلاحيت سمع و تحقيق شکايات، دعاوی و عرايض صورت گرفته بالای مسؤولين و منسوبين ارگانهای سه گانهٔ امنيتی امارت اسلامی (وزارت دفاع ملی، وزارت امور داخله و رياست عمومی استخبارات) و در صورت اثبات، صدور فيصله‌های شرعی را دارند، که تطبيق فيصله‌های آن (حدود، قصاص و اعدام) پس از تائيد محاکم سه گانه و رهبری امارت اسلامی به‌طور عملی انجام خواهد شد.

د اسلامي امارت درې ګونې امنیتي ارګانونه د نظامي محکمې د پرېکړو د عملي کولو په ملاتړ په جدي ډول مکلف دي.

والسلام

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث

مولوي هبة الله اخندزاده

ارگان‌های سه گانهٔ امنیتی امارت اسلامی به‌طور جدی مکلف به عملی نمودن فیصله‌های محکمهٔ نظامی می‌باشند.

والسلام

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث

مولوی هبة الله اخندزاده

بسم الله الرحمن الرحيم

د ښځو د حقونو په هکله د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله فرمان

ګڼه: (۸۳ج۱)

نېټه: ۱۴۴۳/۴/۲۷ هـ.ق

د اسلامي امارت مشرتابه مقام ټولو اړونده مسوولينو، علماء کرامو او قومي مشرانو ته هدايت کوي چې د ښځو د لاندنيو حقونو د تحقق په خاطر جدي اقدامات وکړئ:

۱- د نکاح پر مهال د بالغو ښځو رضايت ضروري دی (چې نکاح له کفو سره وي د فتنې او فساد خطر به هم نه وي)، هېڅوک يې په جبر او اکراه پر نکاح کولو نه شي مجبورولای.

۲- ښځه مال نه، بلکې اصيل انسان دی، هېڅوک يې چاته د صلحې په بدل (بدو) کې نه شي ورکولای.

۳- د مېړه تر وفات وروسته چې شرعي عدت يې تېر شي، کونډه نه لېور ځان ته په زور نکاح کولای شي

بسم الله الرحمن الرحيم

فرمان

عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله

در مورد حقوق زنان

شماره: (۸۳ج۱)

تاريخ: ۱۴۴۳/۴/۲۷ هـ.ق

مقام رهبری امارت اسلامی به همه مسؤولين مربوطه، علمای کرام و بزرگان قومی هدايت می‌دهدکه به خاطر تحقق حقوق آتی زنان، اقدامات جدی نمايند:

۱- رضايت زنان بالغ در وقت نکاح ضروری می‌باشد (که نکاح با کُفو باشد و خطر فتنه و فساد نيز نباشد)، هيچ شخص نمی‌تواند که وی را به جبر و اکراه به نکاح کردن مجبور نمايد.

۲- زن مال نه، بلکه انسان اصيل است، هيچ شخص نمی‌تواند که وی را به کسی در بدل صلح (بد) بدهد.

۳- زن بيوه را پس از وفات شوهر که عدت شرعی وی سپری شود، نه برادر شوهر به خود و نه کس ديگر به زور

او نه بل څوک، کونډه د نکاح کولو او د خپل سرنوشت په هکله د خپل اختیار څښتنه ده (چې د کفو اصل او د فتنې او فساد مخنیوی په پام کې نیول شوی وي).

۴- د نوي خاوند څخه د مهر اخیستل د کونډې شرعي حق دی.

۵- ښځه د مېړه، اولاد، پلار او نورو خپلوانو په مالونو کې د میراث حق او ثابت سهم لري، په فرضیت یا عصبیت سره هېڅوک یې د خپل حق څخه نه شي بې برخې کولای.

٦- کوم څوک چې متعدد ودونه لري مکلف دي چې ټولو ښځو ته له شرعي حکم سره سم حقونه ورکړي او ترمنځ یې عدل وکړي.

لاندې اداري او وزارتونه دې په ځانګړي ډول په خپله برخه کې اقدامات ترسره کړي:

- د ارشاد، حج او اوقافو وزارت ته حکم دی چې د ښځو د حقونو اړوند د هدایاتو په هکله علماء کرام او خطیبان وهڅوي تر څو د خپلو خطبو او

نکاح کرده می‌تواند، زن بیوه در مورد نکاح و تعیین سرنوشت خود صاحب اختیار خود است (که اصل کفو وجلوگیری از فتنه و فساد در نظر گرفته شده باشد).

۴- گرفتن مهر از شوهر جدید حق شرعی زن بیوه است.

۵- زن در اموال شوهر، اولاد، پدر و سایر اقارب حق میراث و سهم ثابت دارد. هیچ شخص نمی‌تواند با فرضیت یا عصبیت، وی را از حقش بی‌بهره نماید.

٦- اشخاصی‌که زنان متعدد دارند مکلف‌اند که حقوق همه آن‌ها را طبق حکم شرعی بدهند و میان آنها عدل نمایند.

ادارات و وزارت‌های ذیل به‌طور خاص در سهم خود اقدامات را انجام دهند:

- به وزارت ارشاد، حج و اوقاف حکم است که علماء و خطبای کرام را در مورد هدایات مربوط به حقوق زنان، تشویق نماید تا از

موعظو له لارې خلک پوه کړي چې له بښځو سره ظلم کـول او د هغـوی د حقونـو نـه ورکـول د الله تعـالی د نارضايتي او د هغه د عـذاب او قهـر سبب ګرځي.

